عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۰۳/۲۱

# آیا سوله ممکنه ده؟

زه نه د اوږدو مقدمو د لیکلو صلاحیت او نه عادت لرم او نه لوستونکي د اوږدو مقدمو د لوستلو حوصله لري؛ ځکه نو مستقیما موضوع ته داخلیږم.

په افغانستان کي د سولي د ټینګولو او وینو د تویېدلو د بندولو لپاره، له ډېره وخته، چي موږ ته سم معلومات نسته، پټي او لڅي خبري رواني دي. بالاخره د روان کال د فبروري پر نهه ویشتمه، د طالبانو او امریکایانو ترمنځ، د سولي موافقه لاسلیک سوه. موافقه، د پنځه زره طالب بندیانو د خوشي کېدلو په مسله کي، چي د مارچ تر لسمي پوري یا باید خوشي سوي او یا یې خوشي کېدل پیل سوي وای، او تر هغه وروسته، په ناروې یا جرمني کي، بین الافغاني خبري پیل سوي وای، له ستونزو سره مخامخ سوه. د امریکا جمهوررییس ډانلډ ټرمپ د طالبانو له مشر ملا عبدالغني برادر سره څه باندي نیم ساعت په ټلفون کي خبري وکړې او ټولو فکر کاوه چي هر څه به ګل او ګلزار سي. خو تر اوسه پوري نه چا ګل او نه ګلزار لیدلی دی.

تېره شپه مي، د یوه افغان ژورنالیسټ په مرسته، په قطر کي، د طالبانو له یوه مهم مشر سره، په ټلفون کي، خبري وکړې. طالب مشر د سولي د خبرو د نه پرمختګ ټوله ملامتي د کابل پر حکومت او اشرف غني باندي اچوله. ما ورته وویل چي موږ هیڅ فکر نه کاوه چي د افغانستان د دومره مهمي او حیاتي مسلي د حلولو لپاره به، له میاشتو میاشتو هلو ځلو څخه وروسته، داسي یوه نیمګړې موافقتنامه منځته راځي چي د سولي د ټینګولو په برخه کي به، چي د موافقتنامي اصلي موضوع ده، لومړنیو سوالونو ته جواب نه سي ویلای. او کله چي د سولي موافقتنامه د سولي د ټینګېدلو په مسله کي لومړني سوال ته جواب ورنه کړای سي نو سوله که غیر ممکنه نه وي مشکله خو باید حتما وي.

د بین الافغاني خبرو د پیل کېدلو په برخه کي لومړنی سوال دا دی چي خبري د ښځي او کوم مقصد لپاره؟

- - خبري د دې لپاره چي په افغانستان کي د داسي انتخاباتو لپاره لاره هواره سي چي طالبان برخه پکښي واخلي؟
- - خبري د دې لپاره چي طالبانو ته په حکومت کي برخه ورکړه سي؟
- - خبري د دې لپاره چي اوسنی حکومت خپل قدرت طالبانو ته تسليم کړي؟
- - خبري د دې لپاره چي طالبان، د کابل حکومت او امريکا د پخوانی غوښتني سره سم، اساسي قانون ومني او وسلې پر مځکه کښېږدي؟

کله چي د خبرو اصلي هدف معلوم نه وي نو څوک به څرنګه د مثبتي نتيجي انتظار ولري؟

بالاخره خبري د څشي لپاره؟ که خبري د سولي لپاره کيږي نو سوله خو داسي عمومي مفهوم دی چي د هر چا او هر قدرت له نظره، له مځکي تر اسمانه، توپير لري. اسراييل او فلسطينيان، چي څه کم سل کاله سره جنګېدلي دي، او لا معلومه نه ده چي تر کله به جنګ سره کوي، دواړه سوله غواړي. خو هغه سوله چي فلسطنيان يې غواړي د اسراييلو لپاره د جنګ د دوام معنی لري او هغه سوله چي اسراييل يې غواړي نه فلسطينيانو او نه اسلامي نړۍ ته د منلو وړ ده. اصلا هيڅ لېونی نه وايي چي زه سوله نه غواړم. خو څرنګه سوله؟ دا هغه تر ټولو مهم سوال دی چي، د طالبانو او امريکا ترمنځ، په موافقتنامه کي نه يوازي جواب نه دی ورته ويل سوی بلکه اشاره هم نه ده ورته سوې.

دوهم سوال، چي د لومړي سوال په اندازه مهم دی، دا دی چي بين الافغاني خبري له چا سره؟ که طالبان د کابل له حکومت سره خبري نه کوي او هغه يو ګوډاګی رژيم او اداره بولي نو دا خبري له چا سره کيږي؟ داسي به يې فرض کړو چي بين الافغاني جرګي د طالبانو شرايط په سلو کي سل قبول کړل او د کابل حکومت وويل چي موږ د بين الافغاني جرګي د فيصلې هيڅ ماده نه منو نو بيا؟

د سولي خبري خو له هغه چا سره کيږي چي د جنګ طرف وي او د جنګ وسايل ورسره وي. دا چي طالبانو د سولي خبري، تر هر چا مخکي، له امريکايانو سره پيل کړې؛ دا يې ځکه ډېر هوښيار کار وکړ چي د جنګ اصلي طرف هغوی دي. مګر د سولي په دوهم پړاو کي خو د کابل حکومت ولاړ دی. که طالبان د کابل حکومت په رسميت پيژني که يې نه پيژني هغه يو واقعيت دی او سترګي وربandي پټېدلای نه سي. وسلې لري، پوځ لري، پوليس لري او په نړۍ کي پيژندل سوی رژيم دی. د بنديانو د خوشي کېدلو په موضوع کي ثابته سوه چي واقعيت، هغسي چي طالبانو فکرکاوه، هغسي نه دی.

اوس نو بين الافغاني خبري له چا سره؟ دا چي په ماسکو کي له دوه ځله بين الافغاني ناستو او خبرو څخه هيڅ شی تر لاسه نه سوه، او بايد چي ټولو له هغه څخه پند اخيستی وای، تر دې خبري به تېر سو. که له بين الافغاني خبرو څخه مطلب سياسي ګوندونه وي نو د هغوی شمېر خو ماشاءالله! تر سلو زيات دی. او که په خبرو کي د برخي اخيستلو موضوع مطرح سي نو زه يقين لرم چي شمېر به يې تر پنځو سوو هم واوړي. د افغانستان سياسي ګوندونه، چي له استثنی پرته، ټول سياسي دوکانونه دي، په خپلو منځونو کي هيڅ ډول

روغي جوړي ته رسېدلای نه سي او که چیري ټول سره موافق سي او له طالبانو سره هم موافقې ته ورسیږي نو بیا د هیڅ ډول موافقې د لومړۍ مادې د عملي کولو په لاره کي د لومړني ګام د اخیستلو واک او صلاحیت نه لري.

که خبره د تنظیمونو او د هغوی د مشهور بالفساد قوماندانانو او مشرانو سره وي نو بیا خو نتیجه معلومه ده. دا تنظیمونه چي په دې څه باندي ځلوېښتو کالو کي، یوه ورځ، موافقې ته ونه رسېدل؛ په دومره لویه حیاتي مسله کي به، چي هر مشر او قوماندان یې د ارګ د نیولو او اولسمشر کېدلو اشتها لري، څرنګه موافقې ته ورسیږي؟ او که یې داسي فرض کړو چي دا ټول سیاسي او نظامي لېوان موافقې ته ورسیږي نو بیا به دا موافقه، چي د کابل حکومت برخه پکښې ونه لري، او یا برخه ولري خو د حکومت په حیث په رسمیت پېژندل سوی نه وي، څوک او څرنګه عملي کوي؟

زه د یوه داسي افغان په حیث، چي نه سیاسي تجربه او نه سیاسي پوهه لرم، ډاکټرزلمي خلیلزاد ته حیران یم، چي د یوه، په اصطلاح ګرګ باران دیده او یوه پوه سړي په حیث یې، چي عمر یې ټول په سیاسي هلو ځلو کي تېر کړی دی، څرنګه پر داسي موافقتنامه باندي لاسلیک کوي چي د هغې اصلي موضوع چي سوله ده پکښې حل سوې نه وي.

زه یقین لرم چي امریکا، که په افغانستان کي د سولې په مسله کي رې نه وهي، لږترلږه له افغانستان څخه د خپلو پوځونو را ایستل غواړي او که په دې غوښتنه کي صادق نه وای نو جمهورریس ډانلډ ټرمپ نه خپل خارجه وزیر دوحې ته استاوه او نه یې د طالبانو له مشر ملابرادر سره، په ټلفون کي، څه باندي پنځه دېرش دقیقې خبري کولې او نه یې د ملګرو ملتونو د امنیت له شورا څخه هیله کوله چي طالبان له تور لیست څخه وباسي.

زما اصلي ګیله، چي یوازي دوستانه بڼه لري، له ډاکټر زلمي خلیل زاد څخه ده چي داسي نیمګړی سند یې څرنګه لاسلیک کړی او په دومره مهمه حیاتي مسله کي یې څرنګه تر اندازې زیاته بې پروایي کړې ده؟

زلمی خلیل زاد د قطر او کابل ترمنځ سرګردانه دی او د سولې په قضیه کي یو نیم بین المللي سفرونه هم کوي. په کابل کي د اشرف غني د حکومت تر څنګ له کرزي، ډاکټرعبدالله، ګلبدین، سیاف، خلیلي، محقق او ... سره لیدني کتني کوي. د کابل په اصطلاح« خوب ساتش تیر است » سړی له خلیل زاد څخه پوښتنه وکړي چي په دې کسانو څه جوړه ده؟ دې کسانو په خپل ټول ژوند کي د افغانستان لپاره نه یو ګټور ګام پورته کړی او نه یې یوه ګټوره کلمه پر خوله راوړې ده. او که چیري دا لېوان او داړه ماران، فرض محال، لاري ته راسي او خبرو ته غاړه کښېږدي نو له دوی سره څه واک موجود دی چي هغه د سولې په ټینګولو کي په کار واچوي. هغوی د قدرت په وخت کي څه وکړه چي نن به یې په بې قدرتي کي وکړي.

ډاکټر زلمي خليل زاد ته زما دوستانه مشوره دا ده چي که چيري د کابل حکومت په ريشتيا هم، د طالبانو له ادعا سره سم، ګوډاګی او بي واکه رژيم وي او هر څه د امريکا په قول کوي نو بيا خو دي اشرف غني ته امر وکړي چي څه زه درته وايم هغه کوه. او که چيري د کابل حکومت، لکه څرنګه چي پخپله ادعا کوي، مستقل وي او خپله اراده لري نو بيا خو د هغه له خوښي پرته سوله کېدلای نه سي. په دې صورت کي نو بايد طالبانو ته قناعت ورکړي چي که په ريشتيا هم سوله غواړي نو، په هر صورت چي کيږي، د کابل له حکومت سره خبرو ته کښيني. د هغوی استازي ومني او ټول جريان له سره پيل کړي. د امريکا، طالبانو او د کابل د حکومت ترمنځ په خبرو کي به معلومه سي چي څوک سوله غواړي او څوک يې نه غواړي. کله چي د سولي موافقه، د دريو قواوو ترمنځ، لاسليک سي بيا نو زه په بشپړ يقين ويلای سم چي د کابل مشران، کرزی، عبدالله، سياف، ګلبدين، دوستم او... هيڅ ډول واک نه لري او د پښتو په اصطلاح يوه سترګه به يي ژاړي بله به يي خاندي او سولي ته به غاړه ايږدي.

که د افغانستان د سولي مسله، واقعيتونو او حقيقتونو ته په کتلو سره، سمه روانه سي نو زه يقين لرم چي سمه نتيجه به ورکړي او که په دغه اوسني شکل دوام وکړي نو به د افغانستان د بېچاره او مظلومو اولسونو د ناعلاجه او اوږدو رنځونو په څېر همداسي روانه وي. و ما علنيا الاالبلاغ.

**** **** ****

تذکر

تذکر: هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!